# د برېښنا (برق) مقناطیسي ساحې (Elektrosmog) نه لیدونکي یا پټ زیانونه (خطرونه)

ډېرو قدرمنو لوستونکو !

د برېښنا (برق) مقناطیسي ساحې (Elektrosmog) په وجه زمونږ صحت په خطر کې دی. د سرطان څېړنیز نړیوالې خبرورکولو ځای یا اژانس د لنډوڅپو لرونکو وړانګو په وجه (Mikrowellenstrahlung) چې په انګریزي کې ورته (Microwave radiation) وايي، احتمالي د سرطان د رنځورۍ د ډېرېدو وړاندیینه کړې. د ایټالیا یوې محکمې په 2017 کال کې د موبایل د وړانګو او د مغزو د تومور (سرطان) تر منځ اړیکه تصدیق کړېده.
علمي څېړنو مخ په زیاتېدو مستند ثبوتونو ښودلې چې د برېښنا (برق) مقناطیسي ساحې (Elektrosmog) ډول ډول رنځوري، لکه بې خوبي، په هر کار کې ژوبلونکې بېړه، ستومانتیا، زړه او بدن کې د وینې د جریان پرابلم او همدارنګه د سرطان خطرونه منځ ته راوړي. د برېښنا (برق) سره حساسیت کولای شي چې د ژوند څرنګوالی یا کیفیت ډېر محدود کړي.

د ENKI انستیتوت یو څو اغیزناکه لنډ معلومات او امکانات په ګوته کړي، چې څنګه د دې خطر څخه مخنیوی وشي.

**1 - د درانه فلزاتو چې کثافت یې د 5 نه زیات وي لکه سرپ، د ځانه ویستل**

په ځان کې د درندو فلزاتو زیات مقدار موجودیت، د برېښنا (برق) په مقابل کې حساس او سبدنه هم لوړوي. ددې د پاره چې درانه فلزات د ځانه وباسو، نو دې د پاره ځیولیت (Zeolith) پوډر مناسب دي. خپله ځیولیت څه شی دی؟ ځیولیت (Zeolith) د ولکان یا اورشیند یوه طبعي منرالي ډبره ده.





2.پر ځمکه په لوڅو پښو ګرځېدل

يوه طبعي لاره چې د ځان څخه د برېښنايي (برقي) مقناطيس کم کړي،انسان بايد مستقيماً اړيکه د ځمکې سره ، پر شينلۍ، ځنګلي ځمکې په سر يا د شګو په سر پښې لوڅه وګرځي چې دې سره زښت ډېر مثبت ايونونه ښکته ځمکې ته جريان کوي.

د ENKI د انستيتوت د معلوماتو څخه ژباړنه

ديپلوم انجينير اسدالله ملکزى